Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

ISSN: 2584-0975 (Online)

Vol.02(01), Feb 2024, pp, 20-26

Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe

Research article

# The Impact of Indian Culture on the Literary Works of Abdul Rauf Benawa

# د عبدالروف بینوا پر لیکوالۍ د هندي فرهنګ اغیزې

**Hedayatullah Hakimi[1]*, Jalaludin Mutmain[2], Mirwais Khaliqyar[3]**

[1]Department of Hindi Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan
[2]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Education Nuristan Institute of Higher Education, Afghanistan
[3]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan

**[1]هدایت الله حکیمي، [2]جلال الدین مطمئن، [3]میرویس خالقیار**

[1]د هندي ژبې او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، افغانستان
[2]د پښتو ژبې او ادب څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، نورستان د لوړو زده‌کړو مؤسسه، افغانستان
[3]د پښتو ژبې او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، افغانستان

ARTICLE INFO

***Keywords:***
Abdul Rauf Benawa
Indian culture
Cultural influences
Authorship
Poetry

**کلیدي ټکي:** عبدالروف بینوا، هند، هندي فرهنګ، فرهنګي اغیزې، لیکوالي او شاعري

***Article History:***
Received: 26-12-2023
Accepted: 18-02-2024
Published: 24-02-2024

***Cite this Article:***
Hakimi, H., Mutmain, J., & Khaliqyar, M. (2023). The Impact of Indian Culture on the Literary Works of Abdul Rauf Benawa: د عبدالروف بینوا پر لیکوالۍ د هندي فرهنګ اغیزې. Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English, 1(02), 20–26. https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i02.248

ABSTRACT

Abdul Rauf Benawa stands as a prominent figure in Pashto language and literature, renowned for his contributions as a writer and poet. His journey as a public servant, including his tenure as a press attaché at the Afghan embassy in Delhi, India, exposed him to the rich tapestry of Indian culture. This immersion left a profound impact on his life and poetry, evident in the thematic elements and imagery within his works. Benawa's poetry vividly reflects the assimilation of Indian religious and cultural motifs, showcasing a deep reverence for traditions such as Ram Ram, Guru Grant, Guru Nanak, Vesak, Sikh, and others. Through his verses, he intricately weaves these elements into the fabric of his narratives, offering insights into the interplay between Pashto literary traditions and the broader South Asian cultural landscape. This research article delves into the nuanced exploration of Indian culture and Sikh religion as manifested in the writings and poems of Abdul Rauf Benawa. By examining various facets of these influences, it seeks to illuminate the profound impact they have had on Benawa's artistic expression and thematic repertoire, enriching the literary heritage of Pashto literature.

**لنډیز**

عبدالروف بېنوا د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې د سرلارو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه دی چې د دولتي دندې د اجرا په یوه مرحله کې د هندوستان د ډهلي ښار په افغاني سفارت کې مطبوعاتي اتشه پاتې شوی، په هند کې د بېنوا له پاتې کېدو سره هندي کلتور او ثقافت د هغه په ژوند او شاعرۍ ژوره اغېزه کړې چې دغه تاثیر او اغېز یې په شاعرۍ کې ډېر ښه ښکاره او جوت دی. د عبدالروف بېنوا په شاعرۍ کې د هندي مذهب او کلتور اثرات په خورا ښه ډول سره تر سترګو کېږي. بېنوا په خپلو اشعارو کې رام رام، ګروګرنت، ګرونانک، ویساک، سکهـ او دې ته ورته د هندي فرهنګ نورې ځانګړنې او اصطلاحات بیان کړي دي. په دې څېړنیزه مقاله کې د عبدالروف بېنوا په لیکوالۍ او اشعارو کې د هندي کلتور او فرهنګ زیاتې خواوې څېړل شوي او روښانه شوي دي.

**سریزه**

پښتو ژبه د نړۍ د نورو سیالو ژبو په څېر داسې نومیالي شخصیتونه لري چې د هغو د فکر، فن او شخصیت په اړه ځانته موضوعات ټاکل کېدای شي. د پښتو ژبې له نومیالیو شخصیتونو څخه یو هم عبدالروف بېنوا دی چې د پښتو ادب د نظم او نثر په برخو کې یې ډېر زیات کار کړی او د پښتو ژبه یې په دغو برخو کې لا بډایه کړې کړې ده. د نثر په برخه کې یې داستاني، هنري، تاریخي او

**Corresponding Author*:
Email: hedayathakimi868@gmail.com (*H. Hakimi*)
https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i02.248
© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

څېړنیزې لیکنې ډېره درنه برخه جوړه وي. نوموړی د خپل وخت د لیکوالو او ادیبانو په منځ کې یوه یاده څېره وه چې د خپلو لیکنو له کبله مشهور و. بېنوا په نثر او نظم کې لوی لاس درلود چې په دې علمي مقاله کې یې پر لیکوالۍ د هندي فرهنګ پر اغېزو بحث شوی دی.

## د څېړنې ستونزې

دا خو طبیعي خبره ده چې هره څېړنه د یوې ستونزې د حل په موخه ترسره کېږي. دا چې هر لیکوال په کومه ټولنه کې اوسي یا د کومې ټولنې د کلتور او فرهنګ سره ځانګړې مینه او علاقه لري، نو د هغه ټولنې د فرهنګ او کلتور بېلابېلې خواوې د لیکوال په اثارو کې ځان راڅرګندوي. عبدالروف بېنوا د افغاني ټولنې یو روښانده، سیاسي، ادبي او فرهنګي شخصیت دی چې د افغاني ټولنې تر څنګ د هندي ټولنې د کلتور او فرهنګ څخه هم څه ناڅه خبر دی. په دې څېړنه د بېنوا د لیکنې همدا برخه چې تر اوسه پورې په بشپړ ډول سره نه ده څېړل شوې تر څېړنې لاندې نیول شوې او د دغو پوښتنو چې ایا د بېنوا په لیکنه کې د هندي فرهنګ کومې خواوې شته او د هندي فرهنګ کومو برخو د ده لیکوالي اغېزمنه کړې ده؟ د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او اړتیا

د هر مسلک او فن د پرمختګ لپاره تر هر څه لومړی په هغه برخه کې څېړنه ډېر رول لري. دا چې کلتور او فرهنګ په نړۍ واله کچه د هرې ټولنې د جوړښت یو ستر رکن دی، نو له همدې امله د یوې ژبې په ادبي بډاینه کې ډېر رول لري. هندي ټولنې د نورو ګاونډیو قومونو په پرتله زیات لرغوني فرهنګي او کلتوري توکي تر اوسه پورې ژوندي ساتلي دي. دغو کلتوري عناصرو ډېرې وخت د هندي ټولنې د لیکوالو او شاعرانو سربېره د نورو ټولنو لیکوال او شاعران هم اغېزمن کړي او په خپلو لیکنو او اشعارو کې یې دغه فرهنګي توکي یا ستایلي او یا یې غندلي دي. ویلای شو چې په ټوله کې هندي فرهنګ د لیکوالو په لیکنه یو ډول اغېز کړی دی. عبدالروف بېنوا هم یو د هغو ګڼو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه دی چې هندي فرهنګ او کلتور ځاناځه اغېزمن کړی دی. په دې لیکنه د بېنوا د شخصیت د نورو ګڼو اړخونو ترڅنګ دا اړخ هم باید د علم او پوهې مینوالو ته څرګند شي چې د پښتو ژبې او ادب دغه روڼ ستوری د هندي فرهنګ څخه څومره متاثره دی.

## د څېړنې موخې

هره څېړنه خپلې موخې لري، که کومه څېړنه ځانګړې موخې ونه لري، نو څرګنده خبره ده چې هغه څېړنه به ګټوره هم نه وي. دا څېړنه خپلې ځانګړې موخې او اهداف لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوم:

۱- د عبدالروف بېنوا د شاعرۍ او لیکوالۍ د هغې برخې محتوایي شننه چې د هندي فرهنګ څخه اغېزمنه ده.

۲- د عبدالروف بېنوا پر لیکوالۍ او شاعرۍ د هندي فرهنګ تاثیرات څرګندول.

۳- د بینوا پر لیکنو د هندي کلتور د اغیزو عوامل په ګوته کول.

## د څېړنې شالید

دعبدالروف بېنوا په اړه ځینو لیکوالو لنډې او اوږدې لیکنې کړې دي او په خپلو اثارو کې یې د ده پر ژوند او فن یو څه اندازه رڼا اچولې ده، د بېلګې په توګه عبدالقدیم پټیال په خپل کتاب ( پردېس بېنوا) کې نوموړی د معاصرې دورې د یو لیکوال او شاعر په حیث معرفي کړی او د ده د چاپ او ناچاپ اثارو لیکلړ یې خپور کړی دی. همدا رنګه پوهاند ډاکټر زیورالدین زیور په خپل کتاب (د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنی دوره) کې بېنوا د معاصرې یا اوسنۍ دورې د لیکوال او شاعر په توګه راپېژندلی دی، د نوموړي په ژوند او دندو یې یوڅه رڼا اچولې او د چاپ او ناچاپ اثارو لیکلړ یې خپور کړی دی. د دې تر څنګ یې د نوموړي د نظم او نثر یو څو نمونې هم راخیستي دي. بریالي باجوړي په خپل اثر (پښتو معاصر ادب تاریخ) کې د نوموړي پر ژوند او لیکنو ډېره لنډه رڼا اچولې ده، خو تراوسه داسې کومه څېړنه شاید نه وي ترسره شوې چې د نوموړي د اثارو په منځپانګه دې د هندي کلتور او فرهنګ د اغېزو په اړه بحث پکې شوی وي. زموږ د معلوماتو له مخې په ځانګړې توګه د ده اشعارو او منثورو هنري اثارو په اړه تر اوسه پورې کومه ځانګړې لیکنه نه ده شوې. دغه څېړنه د بینوا پر لیکوالۍ د هندي فرهنګ د اغېزو د څرګندولو په برخه کې کاملاً یوه نوې څېړنه ده.

## د څېړنې مېتود او کړنلاره

د دې څېړنې ډول کتابتوني او میتود یې تشریحي او تحلیلي دی، په دې تړاو تر ډېره هڅه شوې چې د دې ادبي لیکنې د بشپړوالي لپاره له مختلفو هغو کتابونو څخه ګټه واخیستل شي چې د عبدالروف بېنوا د ژوند او آثارو او هندي فرهنګ په اړه لیکل شوي دي. یاد اثار مو په خیرتیا سره مطالعه کړي او د ماخذ ښودنې له اصولو سره سم مې ترې ګټه اخیستې ده.

## د عبدالروف بېنوا پر لیکوالۍ د هندي فرهنګ اغېز

عبدالروف بینوا د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې یو مشهور لیکوال او شاعر دی. ښاغلی بینوا په قوم علیزی د مفتي عبدالله

زوی او په ۱۲۹۲ هـ ش کال د کندهار خرقې مبارکې تر څنګ د سید حسن خان په کوڅه کې زېږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کور کې له دیني عالمانو او په تېره بیا له خپل ورور مولوي عبدالکریم حقاني څخه کړي دي. په ۱۳۱۸ هـ ش کال کابل راغلی او کابل ته له راتګ سره سم یې پر خپلو سیاسي، فرهنګي او ادبي فعالیتونو لاس پورې کړ.

کابل ته د بینوا راتګ او په کابل کې د هغه وخت سیاسی حالات داسې وو چې سردار محمد هاشم خان د صدارت دوره وه او په دغه دوره کې ظلم او استبداد اوج ته رسیدلی و، خو په ۱۳۲۵ هـ ش کال سردار محمد هاشم خان له خپلې دندې استعفاء ورکړه او پر ځای سردار شاه محمود خان د صدارت واکې په لاس کې واخیستې. نوموړي لومړی سیاسي زندانیان له زندان څخه ازاد کړل او ورپسې یې د مطبوعاتو ازادي او د ازادو جریدو خپرېدو ته اجازه ورکړه.(باجوړی، ۱۳۹۹ل، م. ۱۳)

د سیاسي فعالیتونو په برخه کې باید ویل شي چې ښاغلي بینوا د ویښ زلمیانو د نهضت په رامنځته کولو کې اساسي رول درلود. د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوره کې به پښتنو لیکوالو او شاعرانو په خپلو منځو کې د ادبي ناستو تر څنګ د هېواد پر سیاسي مسایلو هم بحثونه کول چې په پایله کې د ۱۳۲۶ هـ ش کال د ویښ ځلمیانو د ګوند بنسټ کېښودل شو. د ویښ ځلمیانو د ګوند په رامنځته کیدو او په دې برخه کې د ښاغلي عبدالروف بینوا د کړنو او فعالیتونو په اړه ښاغلی عبدالقدیم پتیال دا ډول لیکلي دي: « استاد بینوا د ځینو علمي او فرهنګي ناستو تر څنګ له ځینو روښاندو سره سیاسي ناسته ولاړه هم لرله. په پټه یې د یو بل په کورونو کې ورځ سیاسي ناستې کولې او د ملک پر حالاتو به غږېدل. د سردار شاه محمود خان په نسبتاً ازاده دوره کې استاد بینوا، ارسلان سلیمي، استاد خادم، نورمحمدتره کی، اروانښاد انګار، غلام حسن خان صافي، پوهاند رښتین او استاد الفت خپله ادبي ټولنه په یوه سیاسي ټولنه واړوله او هغې ته یې د (ویښ ځلیمانو) نوم ورکړ او له ولایاتو سره یې اړیکې ټینګې کړې. په اصل کې د دې سیاسي تحریک د عمل ډګر کندهار او بیا نور ولایتونه وو. استاد بینوا د دغه ګوند له موسسینو څخه و او په افغانستان کې د لومړي ملي او د ملي ګټو د سیاست پلوي ګوند د جوړېدو ویاړ یې تر لاسه کړی و.» (پتیال، ۱۳۸۷ل، م. ۶۵)

د ویښ ځلمیانو ګوند تر ۱۳۳۰ هـ ش کال پورې خپل فعالیت ته دوام ورکړ چې له یوې ورځې نه بلې ته د دوی شمېر او د فعالیت ساحې پراخېدې. په ۱۳۳۰ هـ ش کال شاه محمود خان صدراعظم چې د خپل تقرر په وخت کې کومې وعدې کړې وې هغه یې ټولې هېرې کړې او هم هغه نیم بنده دیموکراسي یې چې اعلان کړې وه بېرته واخیستله.

شاه محمود خان د ویښ ځلیمانو مشهور کادرونه ګل پاچا الفت، قیام الدین خام، غلام محی الدین زرملوال، غلام دستګیر پوپل، عبدالروف بینوا او نور محمد تره کی خپل حضور ته وغوښتل او په داسې حال کې چې له ډېر قهره ترېو او تریخ ښکارېده د اخطار په ډول وویل چې تاسې نور د ویښ ځلمیانو فعالیت نه شی کولای او که په تاسې کې هر څوک د حکومت سره همکاري غوره کړې، نو لویې رتبې به ورته ورکړل شي. همامغه و چې غبدالروف بینوا او نورمحمدتره کې دواړو د ویښ ځلمیانو څخه استعفاء وکړه صدراعظم په بدل کې بینوا په ډهلي کې په افغاني سفارت کې مطبوعاتي اتشه مقرر کړ او نورمحمدتره کی یې په امریکا کې په افغاني سفارت کې د مطبوعاتو اتشه په توګه وټاکه چې د دواړو عکسونه د کابل په کلنۍ کې خپاره شول.(باجوړی، ۱۳۹۹ل م م. ۱۸ -۱۹)

د پورته لنډې یادونې څخه مو موخه دا وه چې عبدالروف بینوا څنګه هند تللی، هلته څنګه له هند او هندي فرهنګ سره اشنا شوی دی او بیا یې څنګه په لیکوالۍ او شاعرۍ کې د دغه فرهنګ تاثیرات او اغېزې راڅرګندې شوې دي. هند ته ډېری پښتانه لیکوال او شاعران تللي چې ځینې یې هلته تر ډېره اوسیدلي او ځینې یې د یو څه مودې استوګنې څخه وروسته بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي. دا خو طبعي خبره ده چې د لیکوال او شاعر پر لیکنه او شاعرۍ د نورو تاثیراتو او اغېزو تر څنګ د چاپېریال اغېزې هم وي. شاعر او لیکوال چې په کوم چاپیریال کې استوګن وي، نو خامخا به د چاپېریال تاثیرات د هغه په لیکنه کې تر سترګو کېږي.

هند ته د پښتنو تګ راتګ او هلته استوګنه ډېره لرغونې مخینه لري. د پښتو ژبې او ادب تاریخ د لرغونې، کلاسیکې او معاصرې دورې ډېر شاعران او لیکوالان هند ته تللي چې ځینې یې هلته د ژوند تر پایه یا تر څه وخته پورې پاتې شوي دي. استاد غضنفر د کلاسیکې دورې د شاعرانو خصوصاً د خوشحال خان خټک او کاظم خان شیدا په اشعارو کې د هندي فرهنګ او ښکلا د اغیزو په اړه یو ځای لیکي: « زموږ ګڼ کلاسیک شاعران هند ته تللي او هورې اوسیدلي دي خو له خوشحال خټکه پرته بل یو هم د شیدا په اندازه هندي حسن ته ځیر شوی نه دی. شیدا په خپلو ګڼو بیتونو کې د هندې سبزانې یادوي.» (غضنفر، ۲۰۱۷م، م. ۳۳۴)

عبدالروف بېنوا په ځوانۍ کې هند ته تللی او هلته د رسمې دندې تر سره کولو تر څنګ يې د هند ګڼې سيمې او ځايونه ليدلي او کتلي دي. په هند کې استوګنې په بېنوا باندې خپل تاثيرات لرلي چې د ده په شاعری او ليکوالی کې د هندي جغرافيې او فرهنګ اثرات ښکاره کېدل طبيعي خبره ده. دغو اغېزو د ده شاعری ته خاص خوند او رنګ ورکړی دی.

که څه هم د ښاغلي بېنوا د ليکنو منظومه برخه تر منثورې هغې کمه ده، خو په منظومه برخه کې هغه چې ښاغلي بېنوا پنځولې د خپلو خاصو ځانګړنو په لرلو په پښتو ژبه او ادب کې خپل مقام او منزلت لري، د ده په شاعری کې د ترقی او پرمختګ له کاروانه سره د يوځاوالي او همغاږي توب جرس هم شرنګېږي. لټي او بېکاري غندي او د وطن له درد وغمه ناخبره ځوانان خپلو عيبونو ته متوجه کوي.(بېنوا، ۱۳۹۳ل، م. ۱۰)

ښاغلی افضل ټکور ليکي چې: «اروابناد استاد بېنوا د نورو علمي او ادبي کارونو په ير تله شاعری کمه کړې ده، خو دغه ټوله شاعري يې د پښتو د معاصر شعر ډېرې لوړې او پياوړې بېلګې دي.» (بېنوا، ۱۳۶۷ل. ب )

استاد ګل پاچا الفت د بېنوا د شاعری ډېره زياته ستاينه کوي او ليکي: «زه د ښاغلي بېنوا شاعري د ده په نورو کمالونو غوره ګڼم او په دې باب کې ورته په ډېر ښه حق قائل يم. دی طبيعتاً شاعر دی، د ده ژوند، د ده صحبت، د ده خوی، د ده فکر، د ده ناسته ولاړه، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنګ لري او اصلي رنګ يې همدغه دی.» (بېنوا، ۱۳۳۵ل. ب)

ښاغلی رښتين د استاد بېنوا د ليکوالی او شاعری په اړه وايي: « بېنوا په عربي، پارسي، اردو او پښتو ژبو پوهېږي په پښتو او پارسي کې ښه ليکونکی دی، له انګريزي سره اشنا شوی دی. دی په نظم او نثر دواړو کې ښه قوي لاس لري، پخوا يې د شعر خوا قوي وه، اوس يې د نثر خوا هم اوچته شوې ده، د ده پخواني شعرونه او نثري ټوټې يو زبردست انتقادي روح لري، په ډېرو ليکنو کې يې د قوم او بې وزله اولس غم ژړلی دی، دی د پلټنې او څېړنې پوره شوق هم لري، په اوږده حوصله او سوړه سينه د ليکلو کار کوي. په ښکاره مست او بې پروا ښکاري ليکن په زړه کې ورسره ملي درد ملګری دی. د ده په شعرونو کې د مستی او جوش، غم او خفګان دواړه اړخونه ځان ښکاره کوي، کله د يتيمانو په حال ژاړي او کله له زرکو سره خاندي، مګر توپير دا دی چې ژړا يواځې په شعر کې وي او خندا په شعر او عمل دواړو کې وي.» (رښتين، ۱۹۹۲م، م. ۳۵۰)

بله دا چې د ښاغلي بېنوا دغه لړه شاعري هم د لوړ معيار شاعري ده، د شکل له مخې يې ټول زاړه ديواني فورمونه کارولي دي، خو تر هغو يې نوو فورمونو ته هم توجه کړې ده. پښتو شعر يې نوی کړ، هغه يوازې د فورم په لحاظ پښتو شعر نوی نه کړ، بلکې د شکلي نوي والي سره يې معنوي نوی والی هم ملګری کړ. د موضوع په لحاظ يې نوي موضوعات په نوي اندازه سره مطرح کړل او د دې نوي والي اثرات د دوی پر نورو معاصرو شاعرانو هم وشول، چې د استاد بېنوا لاره يې تعقيب کړه او د دوی له تاثيراتو څخه اغېزمن شول، په دغو موضوعاتو کې چې ښاغلي استاد بېنوا په پښتو شعر کې بيان کړي يو هم د هندي کلتور او مذهب بېلابېل توکي او اصطلاحات دي چې په معاصره دوره کې د ده په شعر کې تر نورو شاعرانو او ليکوالو ډېر تر سترګو کېږي.

بېنوا د هندي کلتور او ولسي ژوند سره ډېرې نژدې اړيکې ساتلي دي، څنګه چې هغه وخت هندوانو د ويساک ميله د ځانګړو محفلونو او دودونو سره نمانځله نو بېنوا دغه محفلونه له نژدې څخه ليدلي او کتلي دي او هغه يې په خپلو اشعارو کې په ښه شان سره بيان کړي دي. لکه چې په يو ځای کې وايي:

مسته وينه د مست تاک را
دې بې واکه زړه ته واک را
د «نانک» بابا روح ښاد کړه
زاړه مې په دې ويساک را

(بېنوا، ۱۳۹۳ل، م. ۱۳۴)

پورته څلوريزه کې دوه داسې کلمې راغلي دي چې د هندي کلتور روښانه نماينده ګي کوي (نانک) او (ويساک) نانک د هندي فرهنګ خصوصاً د سکه مذهب يو ستر مذهبي لارښود او مشر دی چې د سکه مذهب ډېری لارويان ورته د مقام او منزلت په درنه سترګه ګوري، همدارنګه ويساک يا ويساکه د سکه مذهب د ځانګړو کلتوري او مذهبي ورځو له جملې څخه يوه ډېره مهمه ورځ ده چې دوی په دې ورځ د خپل مذهب د لارښوونو سره سم عبادات کوي او د خوښۍ ډول، ډول ميلې نمانځي.

عبدالروف بېنوا يوازې انتقادي شاعر او ليکوال نه و، بلکې د جام او ساقي په ستايلو کې يې هم د رنګينو الفاظو ساری کم پيدا کېږي. د دې مستيو د ستايلو تر څنګ د خپل هېواد د هغو بېوزلو، کونډو، رنډو او يتيمانو اوښکو ته هم متوجه دی چې جام او ساقي مفهوم نه ورته لري او د ژوند ډېر لويه ارزو يې د لوڅو سرونو او لوڅو پښو پټول دي. جام او ساقي به هر چا ستايلي وي چې د فارسي او پښتو ژبې په زرګونو شاعرانو د ساقي د سپينو

لاسونو او سرو اننګیو په ستایلو په زرهاوو پاڼې توري کړي دي. ځینو شاعرانو خو د وخت د دربارونو د عیش او نوش د ستایلو او سلطانانو او واکمنانو د خوشحاله کولو له پاره د هغوی په دربارونو کې د نوخطانو په ستایلو ځانونه ستړي کړي او د هغوی له سپینو لاسونو یې د خیال په دنیا کې خمونه پر سر اړولي دي، خو بېنوا د دلبرانو او نوخطانو پر ځای، خپل یو سیکه انډیوال شام سینګه ته د ډیره ور ساقي په نوم یو شعر لیکلی دی چې سری یې د طرحې او سرلیک له مخې په پښتو او فارسي ژبو کې بې ساري بللای شي. (بېنوا، ۱۳۹۳ل، م. ۲۳)

د ښاغلي بېنوا دا شعر د محتوا له مخې موږ په دوه برخو ویشلی شو، لومړی موضوع چې په دې شعر کې بیان شوي هغه په پښتو ژبه او ادب کې د خمریه شاعرۍ یوه غوره او په زړه پورې بېلګه ده. د خمریه شاعرۍ ټولې ځانګړنې لري. بله موضوع چې زموږ د څېړنې اساس او بنیاد دی هغه د بېنوا په شاعرۍ د هندي فرهنګ اغېزې او د هغه په لیکوالۍ او شاعرۍ کې د هندي فرهنګ د بېلابېلو برخو یادونه ده. دلته لومړی د (ډیره ورساقي) تر سرلیک لاندې شعر راوړو او وروسته په دې شعر د هندي فرهنګ اغېزو ته په تفصیلي ډول سره اشاره کوو:

| | |
|---|---|
| ډیره وره ساقي راشه | د شرابو عطر پاشه |
| ګوره ورځې د ویساک دي | زړونه ټول له خیرو پاک دي |
| د نانک روی مې دروړی | له خماره مې روح ستړی |
| ستا تر سپنې ډیرې جار سم | صدقه یې تر هر تار سم |
| د هر تار په شمېر یو جام را | نشه مسته د خیام را |
| په ګرنت دې ستا قسم وي | چې هر جام دې جام د جم وي |
| نور ځنډ کفر دی تلوار کړه | ایمانداره جام تیار کړه |
| یرغل ګډ په خرابات کړه | د «کرم» د خم سر مات کړه |
| چې د تاک لور لوڅه پاڅي | د رندانو مخ کې ناڅي |
| په لیدو یې مستانه سو | په خوندو یې فرزانه سو |
| بیا له سره را زلمیان سو | د ښاغلي تک زومان سو |
| تیاره زړونه بیا رڼا سي | دین دنیا و ته مو شا سي |
| لږ ډېر غم له زړونو کم سي | د غم مرګ د زړو همدم سي |

په مستۍ کې د ي جام ستایو
د رام رام پر ځای «شام» وایو
(بېنوا، ۱۳۹۳ل، م. ۱۴۰)

لکه څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه د بېنوا پورته شعر دوه عمده موضوعات په خپله لمن کې رانغاړي، یوه د خمریه شعر موضوع ده چې د شعر له پیل څخه تر پایه پورې یې یادونه شوې ده.

همدارنګه د دې تر څنګ د د بېنوا پورته شعر د هندي فرهنګ د یوې سترې برخې ترجماني کوي، ځکه په دې شعر کې د هندي مذهب او کلتور څو عمده اصطلاحات په ډېر مهارت سره بیان شوي دي. لکه: ډیره ور، ویساک، نانک، ګرنت او رام رام.

دلته به د هندي مذهب او کلتور دغه څو عمده اصطلاحات په لږ څه تفصیل سره وړاندې کړو چې د شعر د معنا او محتوا په روښانولو کې مرسته کوي او د بېنوا په شاعرۍ کې د هندي فرهنګ د اغېزو څرګنده نماینده ګي کوي.

ویساک: ویساک چې اصلي شکل یې ویساکه دی د سکهانو مذهب او کلتور یوه ځانګړې او مقدسه ورځ ده چې عیسوي کال د اپریل په میاشت کې نمانځل کېږي. په همدې ورځ د دې مذهب یو مذهبي لارښود چې د دوی په اصطلاح ګرو، ګرو ګویند سنګه نومیده ټول سکهان سره یو موټی کړل. سکهان په دې ورځ ګرو ګرنته هم لولي. دوی یو ستر خیرات یا لنګر پخوي او په مسکینانو یې ویشي. همدارنګه په دې ورځ دوی ځانګړی جشن هم ترسره کوي او پنجابي موسیقي (بنګړا) غږوي او ورته نڅاوې هم کوي. په هندي فرهنګ او کلتور کې ویساکهي د خوښیو ځانګړې ورځ ګڼل کېږي. د ویساکه دغه ورځ د سکه مذهب لسم ګرو ګرو ګویند سنګه چې په ۱۶۹۹م کال کې هغه مهال رامنځته کړ چې د خالصه ګوند تهداب یې کېښود او د سکهانو دا ځانګړې ورځ یې د سکه مذهب د شناخت ورځ ونوموله، ځکه چې دغې ځانګړې مذهبي او کلتورې ورځې دوی (سکهانو) ته ډېر شهرت ورکړ.(هندي ویکیپیډی)

نانک: ګرونانک د سکه مذهب بنسټګر او سرلاری ګڼل کېږي، هغه په بابا نانک سره هم شهرت لري. نوموړی په پنځلسم د اپریل ۱۴۶۹م کال په رای بوی سیمه کې زیږېدلی دی. د پلار نوم یې میتارام او د مور نوم یې ترپتا دیوي و. د ګرونانک اصلي نوم نندلال و، پلار یې یو شتمن شخص و. نوموړي د سکه مذهب بنسټ په ورورولۍ، یووالي او پیاوړتیا کېښود. خپله یې د پلار ټوله شتمني په مسکینانو او فقیرانو خیرات کړه. د سکه مذهب پیروان یې په خپلو کې د یوې قوي اړیکې په لړلو سره وتړل. د دوی په مذهب کې خیرات ټولونکی نه موندل کېږي. د ګرونانک لارښود او استاد کبیر داس و چې د انسانیت شاعر بلل کېږي. دوی په لومړیو کې پر عدم تشدد باور درلود، خو وروسته د ګرو ګویند سنګه په دور کې یې د جنګ لاره هم خپله کړه. ګرونانک موحد یا پر یو خدای باورمند و.( هندي ویکیپیډیا)

ګرنت: ګرو ګرنت صاحب یا آدي ګروګرنت د سکهـ مذهب اصلي یا مقدس کتاب ګڼل کېږي. د دې کتاب ترتیب او تدوین د سکهـ مذهب پنځم ګرو ارجون دیو کړی دی. د ګروګرنت صاحب لومړی چاپ په1604 م کال کې په هري مندر امرتسر کې شوی دی. په 1705 م کال په دم دما کې د سکهـ مذهب لسم ګرو د ګرو تېج بهادر سنګهـ 116 سبد «د نظم ځانګړی فورم» نظمونه هم ورسره یوځای کړل او بیا خلې یې چاپ کړ. په دې ډول د سکهـ مذهب دا مقدس کتاب ټولټال 1430مخونه لري چې نه یوازې د سکهـ مذهب د ګرووانو نظمونه پکې دي بلکې د سکهـ مذهب د ډېرو نورو عارفانو نظمونه هم پکې شامل شوي دي. لکه د کبیر داس، رای داس او نورو.(هندي ویکیپیډیا)

رام رام: هندوان باور لري چې رام یې بګوان دی. رامایڼ چې د والمیکي ستره حماسه ګڼل کېږي، پکې ښودل شوي چې رام د دشرت زوی دی. نوموړی د خپلې میرې مور په وجه څوارلس کاله له کوره لرې په ځنګل کې تېروي. د رام میرمن د سریلنکا د هغه وخت بادشاه راوڼ اختطاف کړه او په دې ډول رام ته احوال ورکړل شو چې راوڼ یې میرمن (سیتا) اختطاف کړې ده. د دواړو ترمنځ یوه قوي جګړه نښلي او په پای کې د رام په غشي راوڼ وژل کېږي او سیتا ژغورل کېږي. کله چې رام څوارلس کاله وروسته خپلې سیمې ته راځي، نو خلک ورته له ډېرې خوښۍ په همغه شپه کې ډیوې بلوي او نوموړی یو اتل جوړېږي. له هغه وروسته هغه د بګوان په توګه نمانځل کېږي، عبادت یې کېږي او کله چې خلک یو له بل سره مخامخ کېږي رام رام وایي او یا کله چې له یو بل څخه بېلېږي هم رام رام وایي، یا کله چې له یو چا څخه ځه وران کار کېږي هم رام رام وایي، یا د یوې ګناه مرتکب کېږي هم رام رام وایي، نو په دې ډول په هرڅه کې دوی رام یادوي. د ښېښې او معافۍ په معنا سره یې د خپل مذهب او کلتور د یوې برخې په توګه کاروي.(هندي ویکیپیډیا)

## ګیتانجلي

استاد بېنوا په ډېرو بهرنیو ژبو پوهیده او له ډېرو ژبو څخه یې د لیکوالۍ او ژباړې په برخه کې ښه استفاده کولای شوه. د بېنوا په ژباړو کې دوه داسې اثار دي چې د هندي فرهنګ غوره او په زړه پورې بېلګې دي. په دې اثارو کې د رابندرناټهـ ټاګور مشهور او د نوبل جایزې ګټونکی اثر ګیتانجلي ده چې ښاغلي بېنوا له اردو ژبې څخه پښتو ته په پوره دقت، هنر، جذابیت او شاعرانه روح سره ژباړلی دی. د دغسې هنري اثر ژباړه یو لوی هنرمند او شاعر غواړي، چې په استاد بېنوا کې دغه ټول کمالونه موجود ول او د پښتو ادب د هنري نثر په برخه کې یې دغې په زړه پورې ژباړې سره یو نه ماتیدونکی ریکارډ قایم کړ.(پټیال، ۱۳۸۷ل، م. ۱۳۱)

د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال او شاعر ښاغلی پیرمحمد کاروان د بېنوا د ګیتانجلي د ژباړې په اړه وایي:«د ټاګور ګیتانجلي اروابناد استاد بېنوا د پښتو په خواږه نثر داسې اړولې، چې د شعر غوندې خوږه لګېږي. یو خو اروابناد بېنوا برلاسی لیکوال او شاعر و، بل د ټاګور شعر هغه شعر دی چې په ترجمه کې هم خپل رنګ او خوند نه بایلي.»(ټاګور،۱۳۹۷ل، م. ۹۱)

همدارنګه د ټاګور یو اثر (باغوان) هم استاد پښتو ژبې ته ژباړلی دی او د کندهار په طلوع افغان کې په پرله پسې ډول سره چاپ شوی دی.

## مناقشه

د عبدالروف بېنوا د ژوند اشعارو او لیکوالۍ په اړه بېلابېلې لیکنې شوي، خو د بېنوا د لیکوالۍ او شاعرۍ په اړه چې کومې لیکنې شوي په هغو کې د عبدالقدیم پټیال او یو شمېر نورو لیکوالو او پوهانو نومونه د یادولو وړ دي. د دوی له لیکنو سره د دې لیکنې توپیر په دې کې دی چې په دې لیکنه کې د بېنوا پر لیکوالۍ او شاعرۍ د هندي فرهنګ اغېزې روښانه شوي او د بېنوا د لیکنو او اشعارو په رڼا کې یاده موضوع معرفي شوې ده. همداشان د عبدالروف بېنوا په اشعارو کې د هندي فرهنګ او کلتور اغېزې په ګوته شوي دي. بله دا چې په دې لیکنه کې هڅه شوې، د عبدالروف بېنوا په لیکنو او اشعارو کې د هندي فرهنګ، مذهب او کلتور ځینې اصطلاحات تشریح او توضیح شي. یاده موضوع تر اوسه پورې د نورو لیکوالو په لیکنو او څېړنو کې نه تر سترګو کېږي، بلکې دا لیکنه په اصل کې په دې برخه کې کاملاً یوه نوې څېړنه ده.

## پایله

د پایلې په توګه دومره ویلای شو چې ښاغلی عبدالروف بېنوا د هندي فرهنګ، کلتور او مذهب سره تر ډېره پورې اشنا و او په خپلو لیکنو کې یې ترې ځای ځای یادونه کړې ده. خصوصاً په شاعرۍ کې یې تر ډېره د خمریه اشعارو د بیان پر وخت د هندي کلتور ذکر هم کړی دی. د بېنوا په شاعرۍ کې د هندي کلتور د مشهورې میلې ویساک یادونه شوې چې دغه میله په سکهـ مذهب او کلتور کې د یوې مهمې مذهبي او کلتوري ورځې په حیث نمانځل کېږي. همدارنګه د هندي فرهنګ او په ځانګړې ډول د سکهـ مذهب او فرهنګ ځینې نور مهم مذهبي او فرهنګي اصطلاحات لکه: ګرنت، ګرونانک او رام رام هم د بېنوا په شعر کې

په ښکار ډول سره راغلي چې دا د بېنوا پر ليکوالی او شاعری د هندي فرهنګ د اغېزو تر ټولو څرګنده بېلګه بلل کېدای شي.

**ماخذونه**

باجوړی، ب. (۱۳۹۹ل). د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ(د ويښتيا پړاو). دويم چاپ. کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.

بېنوا، ع. ر. (۱۳۳۵ل). پريشانه افکار لومړی برخه. کابل: د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې لخوا.

بينوا، ع. ر. (۱۳۹۳ل). د بېنوا شعري کليات. ټولونه، سمون او ترتيب، مطيع الله روهيال. کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.

بېنوا، ع. ر. (۱۳٦۷ل). د هسک پېغله. تدوين او سريزه، افضل ټکور. کابل: د دولتي مطبعي مانوټايپ.

پټيال، ع. ق. (۱۳۸۷ل). پردېس بينوا. کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.

ټاګور، ر. (۱۳۹۷ل). ګيتانجلي، د عبدالروف بېنوا ژباړه، د علامه عبدالشکور رشاد سريزه، څلورم چاپ. کابل: سروش کتابپلورنځی.

رښتين، ص. (۱۹۹۲م). د پښتو نثر هنداره. پېښور: يوينورستي بک ايجنسي.

غضنفر، اسدالله(۲۰۱۷م). شيدا او هندي حسن، خال درې مياشتنی ادبي مجله کوټه، کاظم خان شيدا نمبر، څلورمه او پنځمه ګڼه. کوټه: خال پښتو ادبي ټرون متحده عرب الامارات.

هندي ويکيپيډيا.

https://hi.m.wikipedia.org/wiki/%E0%A4%97%E0%A5%81%E0%A4%B0%E0%A5%81_%E0%A4%A8%E0%A4%BE%E0%A4%A8%E0%A4%95